امنیت شورا

خپریدل: عمومي
۱۴ سپتمبر ۲۰۱۰

اصل: انګلیسي

**عمومي اسامبله**
**څلور شپټېمه ناسته**
د اجنډا ۱۷موضوع
**وضعیت په افغانستان کې**

**د امنیت شورا**
**پنځه شپیتم کال**

**په افغانستان کې وضعیت او پر نړیوالې سولې او امنیت باندي يې اغيزې**

**د سرمنشي راپور**

**لومړی. سريزه**

۱. اوسنی راپور د عمومي اسامبلې د ۶۴/۱۱ پريکړه ليک او د امنيت شورا پريکړه ليک ۱۹۱۷(۲۰۱۰)، سره سم تيار شوی په کوم کې چې شورا له ما څخه غوښتنه کړې وه چې په هرو دريو مياشتو کې د افغانستان د پرمختګونو په اړوند راپور چمتو کړم.

۲. دا راپور د ملګرو ملتونو د فعاليتونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي په ګډون (یوناما) زما له تیر راپور، د ۲۰۱۰ کال د جون د مياشتې ۱۶ نېټه (A/64/872-S/2010/318) راپديخوا د هيواد وضعيت ته کتنه کوي. دغه راپور د مهم سياسي او امنيتي پرمختګونو په شمول د کابل کنفرانس او د ملي شورا ټاکنو لپاره چمتووالی، همدارنګه د افغانستان په اړوند سيمه ييزو او نړيوالو پېښو لنډيز وړاندې کوي. سربيره پردې، ما د امنيت شورا ته په افغانستان کې د ۲۰۱۰ کال د جولای د مياشتې په ۲۳ نېټه پرمختګونو په اړوند، د کابل په کنفرانس کې زما له ګډون وروسته معلومات ورکړل.

۳. د امنيت شورا د جون له ۲۱ څخه تر ۲۵ نېټې پورې له افغانستان څخه ليدنه وکړه. شورا، د ليدنې په ترڅ کې، د حکومت او خلکو لپاره د خپل دوامداره ملاتړ ډاډ ورکړ، او د افغانستان د حکومت لخوا د پرمختګونو ، او د شورا د اړوندو پريکړو د تطبيق وضعيت ارزول باندي بياکتنه وکړه.

**دويم: امنيت او سياسي پرمختګونه**

۴. د راپور ورکولو په موده کې اصلي سیاسي پرمختګ د ۲۰۱۰ کال د جولای د میاشتې په ۲۰ نېټه د کابل کنفرانس دایرول و. حکومت او ملګري ملتونه، چې د دغې ناستې مشري کوله، د خپل حاکمیت د بشپړې کارونې په لور د افغانستان د لېږد په برخه کې بنسټيز انځور وړاندي کړ. دا تر ټولو لوی نړیواله ناسته وه چې د بن د ناستې له راهیسې په کابل کې په لوړه کچه جوړه شوه چې په کې، د ۷۶ نړیوال استازو ګډون درلودل.

۵. کنفرانس، د کابل په پروسه لومړنی پریکنده ګام وباله چې په ۲۰۰۹ کال کې د ولسمشر حامد کرزي د پرانیستې وینا سره پیل شو، او افغانان به ورو ورو د خپل امنیت حکومتداري، او اقتصادي او ټولنیز پرمختګ بشپړ مسوولیت په غاړه واخلي. د افغانستان حکومت ، کنفرانس ته د چمتووالي لپاره، د ۲۳ ملي لومړیتوبونو ستراتیژۍ او پروګرامونو، په شمول د ملي امنیت پالیسۍ او د افغانستان د سولې او بیا پیوستون پروګرام مسوده جوړه کړه. د لېږد لپاره یې یوه ستراتیژي هم جوړه کړه چې د ولایت په ولایت پر بنسټ، په واضح ډول تعریف شوي شرایط سره سم، د امنیت مسولیت په غاړه واخلي.

۶. د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر د میاشتې په ۱۸ نېټه د پارلماني ټاکنو لپاره چمتووالی په دې دوره کې هم یو لوی سیاسي پرمختګ ګڼل کیږی. د وروستي نوملړ د خپرېدو څلور اونۍ مخکې د رای ورکولو د مرکزونو موقعیت یو مهم پرمختګ و چې دا به د ټاکنو شفافیت لا زیات کړي. نور ټول تخنیکي مسایل انتخاباتي تیاری هم د مهال ویش سره سم د کاندیدانو د نوملړ نهايي کول او د رسمي کمپاین د پیل د مودې په ګډون، پرمخ تللي دي.

۷. پارلماني ټاکنې د دې له امله زیات د اهمیت وړ ګڼل کیږي چې د اجراییه او مقننه څانګو ترمنځ د کابینې د نوماندانو پر سر سیاسي کړکېچ شتون لري. کړکیچ، چې د جنورۍ د میاشتې راهیسې شتون لري، د کابینې زیات شمېر څوکۍ تشې پاتې شوي دي. ولسي جرګه (د ملي شورا ولسي جرګه) د کابینې نوي غړي له اوو تنو څخه پنځه تنه یې د جون د میاشتې په ۲۸ نېټه، مخکې له دې چې خپل رختصی ته ولاړ شي، د فواید عامې، کډوالو او راستنیدونکو وزارتونو په ګډون، د سرحدونو او قبایلو چارو، سوداګرۍ او کورنیو چارو وزارتونو په ګډون تصویب کړل. د لوړو زده کړو او ترانسپورت وزارتونو لپاره نوماندان رد شول، په داسې حال کې چې پنځه نور وزارتونه لا هم خالي پاتې دي. دوه رد شوي نوماندان هزاره ګان وو، چې د هزاره ټولنې د یوې برخې د اعتراض لامل شو.

**ټاکنیز فعالیتونه**

۸. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د جولاي د میاشتې په ۱۲نېټه د ملي شورا ټاکنو ته نوماندانو وروستی نوملړ اعلان کړ. وروستنی نوملړ داسې څرګندوي چې د کمیسیون لخوا د ناقانونه وسله والو ډلو سره د اړیکو په تور د ۳۶ نوماندانو نومونه د نوملړ څخه ایستل شوي دي. له دې وروسته د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون نور نوماندان د ناسم تخنیکي مسایلو له امله له نوملړ څخه حذف کړل چې د ایستل شویو کاندیدانو ټولټال شمیر، د سپتمبر د میاشتې تر ۵ نېټې پورې، ۷۶ تنو ته رسیږي. په ایستل شویو کاندیدانو کې ۱۲ تنه یې ښځې دي. لکه څنګه چې د سپتمبر د میاشتې په ۵ نېټه، پر شرایطو سم د کاندیدانو شمیر

۲۵۱۳ دی چې د ۳۹۷ په ګډون (یا ۱۵ سلنه) ښځې او ۵۲ کوچیان (۴۲ نارینه او ۱۰ ښځې) چې د ۲۴۹ پارلماني څوکۍ د ټاکنو لپاره به ودریږي. د ۲۴۹ څوکیو لپاره ۲۲۹ تنه د پارلمان غړی غواړي چې بیا ټاکنې ته ودریږي.

۹. ټاکنیز کمپاین د جون د میاشتې په ۲۳ نېټه له مهال وېش او د نوماندانو د لست د نهایي کیدو سره سم پیل شو. خود جوشه او فعال کمپاینونه د هیواد ډیر خوندي سیمو کې، د تلویزیون او بلبورډونو له لارې په پلازمینه او ولایتونو کې ترسترګو شوي. زه په دې سیمو کې په ځانګړې توګه د ښځینه کاندیدانو د ځواکمن کمپاین له امله خورا وهڅول شوم. په لږ خوندي سیمو کې کمپاین لږ تحرک درلود، او د خلکو د سترګو څخه پټ ترسره شوی دی، په ځانګړې توګه د سهیلې سېمو په ځینو ولسوالیو کې.

۱۰. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام په ملاتړ خپل ټول لوژستیکي مهال ویش پوره کړی او د ټاکنو مهال ویش په سمه توګه ساتلی دی. د تخنیکي او عملیاتي له نظره د ټاکنو لپاره چمتووالی په ښه توګه پر مخ روان دی. ستر تدارکات پای ته ورسیدل او ټول حساس مواد، د رای پاڼو په ګډون، په هیواد کې دي. د رای ورکولو ځایونه او د رای ورکولو د مرکزونو د کیټونو بسته بندي په بریالیتوب سره بشپړ شول او د موادو ویش په خپل وخت پیل شو. د عامه معلوماتو کمپاینونه او د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا د عامه پوهاوي فعالیتونه هم په خپل مهال ویش ترسره کیږي. کمیسیون توانیدلی چې هغه کارمندان وګماری چې ورته اړتیا لري او روزنه ورکوي او د کارکوونکو کار د پلان سره سم ترسره شوی دی. د یو کمیسیون تر مشري لاندې د رایه ورکونکی د نوم لیکنې تازه معلومات د اګست د میاشتې په ۱۲ پای ته ورسید، او ۳۷۶۰۸۱ اضافي راېې ورکوونکو ته د نوم لیکنې کارتونه صادر شوي، چې ۴۰ سلنه یې ښځو ته ورکړل شوي دي.

۱۱. د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د ملګرو ملتونو په ملاتړ سره، د درغلیو کمولو اقداماتو پراخه لړۍ رامنځته کړې تر څو احتمالي بې نظمیو ته رسیدګې وکړي، لکه د ټولټاکنو د ۶۰۰۰ تنه پخوانیو کارمندانو لرې کول او د رای ورکولو په هغه مرکزونو کې د درغلیو د کمولو اقدامات زیات شوي چې په تېرو دریېو ټاکنو کې تر ټولو لویه بې نظمي شاهدان وو. زما ځانګړی استازي، د جون د میاشتې په ۲۳ نېټه، د کاندیدانو د تذکیې په اړه تبصره وکړه، او ټینګار یې وکړ چې د پروسې لپاره بې عیبه او رغنده چلند ته اړتیا ده. هغه د اګست د میاشتې په ۱۲ نېټه یوه مطبوعاتي اعلامیه خپور کړ تر څو د دې لپاره څو کلیدي ګامونه په ګوته کړي چې باید په راتلونکې ټاکنو کې ترسره شي. هغه په ځانګړې توګه د خپلواکو ټاکنو نهادونو څخه غوښتنه وکړه، کمیسیون دې د رای ورکولو د مرکزونو نوملړ خپور کړي؛ نړیوال او ملي څارونکي، او نوماندان او د ګوند استازي و هڅول چې د نظارت او څار لپاره نوم لیکنه وکړي، د ټاکنو د نوماندانو پر وړاندې تاوتریخوالی وغندل؛ او له رایه ورکوونکو یې وغوښتل چې ټاکنیز کمپاین تعقیب کړي او د سپټمبر د میاشتې په ۱۸ نېټه د خپلې خوښې نوماندانو ته رایه ورکړي. کمیسیون، د سپټمبر د میاشتې تر ۴ نېټې پورې، ۱۳ کورني څارونکي بنسټونه ، ۱۷ نړیوال څارونکي بنسټونه، ۱۷ نړیوالې رسنۍ، ۲۴ کورنۍ رسنۍ، او استازو ته چې د ۱۰ سیاسي ګوندونو استازیتوب کوي او ۱۲۲۹ کاندیدان اعتبار لیکونه وکړي دي. لکه څنګه چې د سپتمبر د میاشتې په ۴ کې، کمیسیون په ټولیز ډول ۲۲۳۷۲۷ څارونکو ته اعتبار او باور لیکونه ورکړي دي، د ټولټاکنو کې ورځنۍ همکاري تخنیکي ملاتړ د ملګرو ملتونو لخوا چمتو شوي چې په هغه کې د ټاکنو کمیسیون د ساحوي عملیاتو څانګې ته، چې د رای ورکولو ځایونو پېژندلو مسولیت لري، د رای ورکولو مرکز د کارکوونکو ګمارل، او د رای ورکولو د مرکزونو لپاره د موادو بسته بندي او ویشل

شامل دي. د ټاکنو په اړه د ملګرو ملتونو لوی تخنيکي سلاکار د خپلواک کميسيون رئيس او سکرتريت دواړو ته د ټاکنيزو کميسيونونو مهمې پريکړې په اړوند په لوړه کچه لارښونې چمتو کوي. تخنيکي مشاورين په عملياتو کې، د ټاکنيزو شکايتونو د کميسيون ظرفيت، دواړه په لوژيستيکي او بنسټيزو برخو کې مرسته کوي. چمتو شوی ملاتړ تر دې دمه، حتی د ۲۰۰۹ کال ټاکنو په پرتله د کم شتون سره سره، د افغان ټاکنيز چارواکو د مخ پر ودې ظرفيت له امله، اغيزمن دی.

۱۲. د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون، د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام او د ټاکنيزو سيستمونو نړيوال بنسټ په ملاتړ د ټاکنيزو شکايتونو د ولايتي دفترونو د جوړولو اړتيا په ګوته کړل. د تېرو ټاکنو بر خلاف، په ۲۰۱۰ کال کې د ټاکنو ډيری شکايتونه به د واليتونو په کچه وڅېړل شي په داسې حال کې چې د ټاکنيزو شکايتونو مرکزي کميسيون به يوازې د استيناف غوښتنې ته رسيدګي وکړي. د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون د ټاکنيزو قوانينو له مخې د کانديد د ارزونې په بهير کې د نهايي حکم په توګه دنده ترسره کوي. د سپتمبر د مياشتې تر ۶ نېټې پورې کميسيون لخوا په ټول هيواد کې د کمپاين د بې نظمي او د ډارولو راپورونه او همدارنګه د کميسيون د ولايتي کارکوونکو له خوا د کانديدانو د طرفدارۍ په اړه ۱۵۰۳ شکايتونه ترلاسه او ثبت کړې چې له ډلې يې تر اوسه ۳۵۰ شکايتونو په اړه يې پريکړه شوې ده. پدې اړوند کميسيون د خپلو ولايتی کمشنرانو او کارکوونکو لپاره روزنيز پروګرامونه په لاره اچولي دي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې دوي د دغه کار د پوره ترسره کولو لپاره د پام وړ ظرفيت ولري. همدارنګه دغه کميسيون د اګست د مياشتې په آخر اوونۍ کې د ۱۰۴ ولايتی کمشنرانو او ۲۰۰د ملاتړ همکارانو لپاره د روزنې دوهم پړاو ترسره کړ چې روزنه د طرزالعمل تنظيمي قواعدو باندې او د رای ورکولو په ورځ کې د راپور ورکړ شويو شکايتونو باندې متمرکزه وه. همدارنګه، په لږ وخت کې په ټول هيواد کې د ټاکنيزو شکايتونو د کميسيون دفترونه تاسيس شوي دي، که څه هم د شکايتونو د قضاوت لپاره د کافي ظرفيت سره، د ننګونې وړ فعاليت ثابت شو.

۱۳. امنيتي وضعيت د انديښنې وړ دی او د ټاکنو په بهير کې خورا لوی ننګونې رامنځته کوي. د نوماندانو پراخ ګواښونه، په ځانګړې توګه د ښځو په وړاندې راپور ورکړ شوي دي. لکه څنګه چې د اګست د مياشتې تر ۳۰ پورې، څلور کانديدان وژل شوي، پداسې حال کې چې د يوې ښځينه نوماندې لپاره د کمپاين پنځه استازي د اګست د مياشتې په ۲۹ نېټه په هرات ولايت کې مړه وموندل شول. کيدای شي کمزورې امنيت د سيستماتيک پيښې درغلۍ او بې نظمۍ لامل شي. همدارنګه هغه اقدامات چې د دې ډول خطرونو د کمولو لپاره نيول شوي دي په راتلونکو پارلماني ټاکنو کې د ګوندونو ترمنځ د همغږۍ کار شامل دی چې د ټاکنو خپلواک کميسيون او امنيتي بنسټونه د ارزونې لپاره وضعيت او د رای ورکولو د مرکزونو د وروستي ليست او د هغه د ويش وخت نهايي کړي. د رای اچونې د نهايي کولو او عامه اعلان څخه د ۲۰۰۹ کال د ولسمشريزو ټاکنو پر مهال مرکزونه وو رايه ورکوونکي، د ګوند او نوماندانو د استازو نشتوالی چې د رايې ورکولو ځانګړو سيمو ته په وخت کې ورسيږي، او په ځينو مواردو کې، درغلۍ د خلکو ترمنځ د انديښنې لامل شوي دي. په ۲۰۱۰ کال کې د ټاکنو خپلواک کميسيون د رای ورکولو د مرکزونو د نوملړ د نهايي کولو لپاره فعاله تګلاره غوره کړې ده، د رای ورکولو د ورځې څخه مخکې، او وروستی واک يې ساتلی دی چې پريکړه وکړي د رای ورکولو مرکزونه کيدای شي پرانستل شي او که نه. کميسيون د رای ورکولو نوملړ چمتو کړ او د مې په مياشت کې افغان ملي امنيتي ځواکونو ته د مرکزونو د خونديتوب لپاره سپارلي دي. امنيتي ځواکونه، د اګست د مياشتې په ۸ نېټه کميسيون ته د امنيتي ارزونې تفصيل وړاندې کړ. د رای ورکولو د هر مرکز د ارزونې د پايلې وروسته، وړانديز شوي چې د ۶۸۳۵ مرکزونو څخه ۵۸۹۷ د رای ورکولو مرکزونه به پرانيستل شي، چې د ۲۰۰۹ کال د رای ورکولو مرکزونو په پرتله ۸۸ سلنه جوړوي. وروسته بيا کميسيون د امنيتي ځواکونو لخوا ترلاسه شوي معلومات پر بنسټ، د امنيت په اړه خپله ارزونه ترسره کړه، او وروستی ليست يې د اګست د مياشتې په ۱۸ خپور کړ، ويل شوي چې په ټوليز ډول به د رايې ورکولو ۹۳۸ مرکزونه خلاص نه شي ( چې په ليست کې له ۷۹۷ مرکزونو څخه زياتره دي کوم چې د مې په مياشت کې د کميسيون لخوا وړاندې شوی

و). کميسيون ټينګار کړی چې د امنيتي وضعيت په پام کې نيولو سره کيدای شي دا شميري نوره هم کمه شي، مګر زياتوالی نه مومي، داسي يوه پريکړه چې زما ځانګړي استازي په ځانګړي ډول ټينګار وکړ چې اړين دی. کميسيون په دې توګه د پروسې روڼتيا زياته کړه، رايه ورکوونکو ته امکان ورکړ چې مخکې له مخکې ښه پوه شي چې چيرې خپله رايه واچوي.

۱۴. د رای ورکوونکو يې برخې کول چې کيدای شي د رای ورکولو د مرکزونو جغرافيايي ويش د پايلې په توګه په ځينو سيمو کې پيښ شي، هم يوه جدي انديښنه ده. د ټاکنو خپلواک کميسيون د دې لپاره تدابير نيولي دي هغو کسانو ته چې د رايې ورکولو نږدې مرکزونو کې دی او د نه خلاصيدو پريکړه يې کړې، په کافي اندازه دي چمتو وی، او د رايې ورکوونکو لپاره د نورو مرکزونو وګړی هلته ورشی او رايه ورکړي.

**امنيتي وضعيت**

۱۵. د هېواد په ډېرو برخو کې امنيتي وضعيت لا هم خراب شوی دی او په هېواد کې د امنيتي پېښو په مجموعي شمېر کې د ۲۰۰۹ کال د ورته مياشتو په پرتله ۶۹ سلنه زياتوالی راغلی دی. دا کيداي شی د فکتورونو د يو ځای کيدو، د نړيوالو ځواکونو د عملياتو د کچې زياتوالی او په عين وخت کې د افغان ملي امنيتي ځواکونو لخوا په امنيتي عملياتو کې زياتوالی او د دولت ضد عناصرو فعاليتونو د زياتوالی په ګډون، له امله وي. د راپور په موده کې د په لاس جوړ چاوديدونکو توکو په کارولو سره د پيښو شمير کې، د ۲۰۰۹ کال د ورته دورې په پرتله، ۸۲ سلنه زياتوالی ثبت شوی دی. يوه چاوديدونکې وسيله په پروان ولايت کې د يوناما کاروان په نښه کړ چې له امله يې د پوليسو درې ساتونکي او يو موټر چلوونکی ووژل شو. پېچلې ځانمرګي بريدونه د ډيری چاوديدونکو توکو په ګډون د تيرې دورې په پرتله دوه چنده شوي چې په هره مياشت کې څلور بريدونه وو او ټول د نړيوالو ملکي وګړو د ميلمستونونه او د پرمختيايي موسسو دفترونو په نښه کولو ته دوام ورکړي دي. دا ډول بريدونه، د افغان او نړيوالو امنيتي ځواکونو پ ء وړتيا باندي د خلکو باور، چې د قانون حاکميت وساتي او اړين ټولنيز خدمات وړاندې کوي، اغيزمن کوي.

۱۶. د دولت ضد عناصر خپل د وژنې کمپاين کې د پام وړ زياتوالی راوړي. د راپور ورکولو په موده کې د ۲۱ کسانو هره اونۍ د وژل کېدو خبر ورکړل شوی دی، چې د تېرې دورې ورته موده کې په اونۍ کې اوه کسان. د وژنې زياتره برخه په سهيل او سهيل ختيځ سيمو کې تر سره شوي دي او په هغه کې په عمده توګه په نښه کسان حکومتي چارواکي، ملکي وګړي او د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو غړي وو. په سهيل ختيځ بدخشان ولايت کې د يوې بشرپالنې نادولتي موسسې لس تنه غړي ووژل شول کله چې د اګست د مياشتې په پيل کې له يوه طبي ماموريت څخه راستون شوي وو. طالبانو او د ګلبدين حکمتيار اسلامي حزب دواړو ادعا کړې او د بريد مسؤوليت يې په غاړه اخيستې دې، خو اصلي عاملين يې نه دي کره شوي.

۱۷. د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ په مياشت کې نړيوال سوله ساتي ځواک (ايساف) د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه د ملاتړ لپاره د ۳۴۰۰۰ اضافي سرتېرو استول پيل کړ چې د ثبات په هڅه کې دی. له بله خوا پراخ پوځي عمليات د حکومت او نړيوال

ځواکونه لخوا په هلمند او کندهار تمرکز لري تر څو ثبات بيرته راولي او دولتي بنسټونه د خدماتو وړاندې کولو لپاره جوګه شي.

**د امنيتي سکتور سمون**

۱۸. تمه کيږي چې په ټول افغانستان کې د ټولنې پر بنسټ دفاعي نوښتونه او د بغاوت خپريدل او د استخدام سره تړلې د مخنيوي ننګونې کمولو په خاطر چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو شمېر وساتي، وده وکړي. يوناما حکومت او ايساف ته مشوره ورکړې ده چې د يو پراخ چوکاټ په جوړولو کې، په کوم کې چې د ټولنې پر بنسټ ټول دفاعي نوښتونه به ضميمه او د بيا يوځای کيدو هڅو سره ونښلول شي طرح کړي. زما ځانګړي استازی ته ډاډ ورکړ شوی دی حکومت او ايساف دواړه د محلي پوليسو استخدام (افغان د سيمه ييزو پوليسو) واحدونه به په ټول افغانستان کې د هيواد توکم او قبيلوي ترکيب انعکاس وکړي. د استخدام شويو روزنيزو زده کړو دوام، چې پکې د بشري حقونو عنصر يوه برخه وی، موخه دا ده چې ډاډ ترلاسه شي چې دوی د ملي امنيتي ځواکونو کې د احتمالي شاملولو لپاره په مناسب ډول چمتو شوي دي. افغان محلي پوليس به هم په کلکه په خپل طبعيت کې دفاعي حالت غوره کړي او په نهايت کې دا واحدونه به د قوماندې تابع وي او د افغان ملي امنيتي ځواکونو تر کنټرول لاندې وي.

۱۹. يوناما د حکومت – ايساف د ليږد پلان ګډ پرمختګ څارنې ته دوام ورکوي، چې موخه يې د افغانستان دولت د پياوړتيا وړ دی په ټولو دولتي دندو کې د هغې مالکيت او رهبري نوره هم شامله ده، د افغان-ناټو د انتقال ګډ بورډ چې مشري يې د افغانستان ملي امنيت سلاکار په غاړه ده، د ناټو جګپوړی ملکي استازی او د ايساف قوماندان، او د افغانستان او ناټو/آيساف کليدي برخه وال، زما د ځانګړي استازی سره د څارونکي په توګه وي. يوناما د دې مسودې په پلان جوړولو کې مشورتي رول لوبولی دی، په ځانګړې توګه د حکومتدارۍ او پراختيا د سمون لپاره هڅول د افغانستان د ملي لومړيتوبونو سره سم پړاوونه، په دغه پلان کې شامل شوي دي.

**سوله او بيا ادغام**

۲۰. ولسمشر کرزي د ۲۰۱۰ کال د جون د مياشتې په ۲۹ نېټه په رسمي توګه د سولې، پخلاينې او بيا يوځای کيدو پروګرام پيل کولو لپاره د جمهوري رياست فرمان صادر کړ. دغه فرمان، چې د لندن د کنفرانس د اعلامیې سره سم او د هغه په تعقيب د افغان سولې او بيا ادغام د سولې د مشورتي جرګې له خوا هم تاييد شو، د دې پروګرام ګډ سکرتريت مشري د ولسمشر سلاکار معصوم ستانکزي ته وسپارل شو. همداراز فرمان د مالي نظارت کمېټې د جوړيدو اړتيا په ګوته کړی چې د سولې له رامنځته کېدو څخه ملاتړ کوي د بيا پيوستون د اعتبار صندوق هم رامنځته کړي. دغې کميټه خپله پرانيستونکې غونډه، د ماليې د وزير عمر زاخيلوال په مشرۍ د جولای د مياشتې په ۲۷نېټه جوړه کړه، چې په ترڅ کې يې د حکومت او ډونرانو د مالي ميکانيزمونو

په اړه یو رسمي تړون له لاري د سولې او بیا پیوستون د اعتبار صندوق رامنځته کوي. د جون د میاشتې په ۵ نېټه د ولسمشر یو بل فرمان د شکمنو مخالفینو د قضیو د بیاکتنې لپاره چې پرته له شواهدو او تورونو نیول شوي دي، د توقیف شوي کسانو د خوشې کولو کمیټه جوړه کړه. کمیټه د حکومت یوه برخه او د ښه نیت او باور د رامنځته کولو هڅه ده چې وسله وال مخالفین د سیاسي پروسې ته تعامل لاره مومي.

۲۱. د سولې عالي شورا، چې د سولې د مشورتي جرګې د پایلو په دوام هڅې رواني کړي دي او حکومت ته لارښوونه او ملاتړ چمتو کوي د سپتمبر د میاشتې په ۴ نېټه رامنځته شوه. زما ځانګړي استازي د مذهبي، قومي او مدني ټولنې، د ښځو په ګډون، د پراخ استازیتوب ملاتړ کړی دی. تمه کېږی چې هغه د سولې او بیا پیوستون ځانګړې فرعي کمیټې، چې لوی تمویل کوونکی دی، د همغږۍ میکانیزم چې به پروګرام ته ستراتیژیک وړاندیزونه چمتو کړي، په ګډه مشري وکړي.

۲۲. د څارنې ټیم چې د کمیټې تر لارښوونې لاندې فعالیت کوي د امنیت شورا د ۱۲۶۷ (۱۹۹۹) پریکړه لیک سره سم د جون په میاشت کې رامنځته شوی دی. کمیټه د ۲۰۱۰ کال د جولای د میاشتې په ۳۰ نیټه، د اشخاصو او ادارو لیست چې د بندیزونو اقداماتو تابع دي، خپل بیاکتنه پای ته ورسوله، چې د امنیت شورا پریکړه لیک ۱۸۲۲ (۲۰۰۸) په تعقیب ترسره شوي. کمیټه دا پریکړه وکړه چې په توحید شوي لیست کې د ۴۸۸ مدخلونو څخه، ۴۴۳ (۱۳۲ له طالبانو سره تړاو لري) په خپل حال پاتې دي، پداسې حال کې چې ۴۵ مدخلونو، چې ۱۰ تنه یې چې پخوا د طالبانو سر تړاو درلودل د بیا کتنې په پایله کې له نوملړ څخه حذف شول. همدارنګه، د جولای د میاشتې په ۱۹ نېټه، کمیټه د دربیو افغان کسانو نومونه په توافق شوي لیست کې د داخلیدو منظوري ورکړه کوم چې د طالبانو لپاره د پیسو په راټولولو کې لاس لري. د نوملړ څخه د کسانو حذف کول، په عمومي ډول د هرکلي سره مخ شو او په افغانستان کې د سولې او پخلاینې پروګرام ته د اسانتیا د رامنځته کولو لپاره د یو عملي ګام په توګه ستاینه وشوه. خو د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون یو تن استازی د دغه څرګندونې په اړه په یوه ټلویزیونې مرکه کې خپله اندیښنه څرګند کړې، او استدلال کوي چې د نوملړ څخه د حذفولو پروسه ممکن په جنګي جرمونو کې د تورنو کسانو د معافیت لامل شي.

**سېمه ییزه همکاري**

۲۳. د افغانستان دولت د ګاونډیو هیوادونو سره خپلو خبرو او همکاریو ته دوام ورکوي. دوه اړخیزې خبرې په اسلام اباد کې وشوې چې په هغه کې د افغان د بهرنیو چارو وزیر، زلمی رسول، او د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر مخدوم شاه محمود قریشي، د جون د میاشتې په ۲۴ او ۲۵ نېټه تایید کړل چې امنیتي اندیښنو ته پیاوړي اقتصادي همکاری د غبرګون په خاطر د ګډو هڅو د زیاتولو لپاره دوه اړخیزه همکاري ته اړتیا شته. د جولای د میاشتې په ۱۸ نېټه دواړو حکومتونه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ټرانزیټي سوداګرۍ د تړون په اړه خپل پراخ خبرې پای ته ورساوه. تړون، کوم چې د دواړو هیوادونو د بشپړ

اقتصادي ظرفيت د کارولو لپاره دواړه هيوادونو لپاره اړين دی، اوس به د افغانستان او پاکستان د باصلاحيته قانوني چارواکو لخوا، مخکې له دې چې د دواړو هيوادونو د پارلمانونو تاييد تر لاسه کړی، وڅيړل شي.

۲۴. زما ځانګړي استازي د سيمه ييزو نوښتونو ملاتړ ته دوام ورکړی او د همکارۍ پروګرامونه د هغه د ښو هڅو دفترونو له لارې، په ځانګړې توګه د کابل له طريقه د وربښمو لارې نوښت، چې هغه د بهرنيو چارو وزارت سره په ګډه مشري کوي، او د پراخې سيمې هېوادونو استازي پکې ګډون لري، دی. د نوښت په کليدي برخو کې د پام وړ ګټو او همکارۍ رامنځته کولو کې مرسته کوي چيرې چې د سيمه ييزو مسلو د حل لپاره کوټلي ګامونه اخيستلی شي. د کابل د وربښمو د لارې نوښت دريمه غونډه د جولای د مياشتې په ۱۱ نېټه ترسره شو، چې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې همکاري په ګډون، په سيمه ييزو مسايلو تمرکز درلود. ګډونوالو پر موجوده نوښتونو بياکتنه وکړه او د تشو په موندلو تمرکز وکړ. دوی د ګډ مسؤليت په اصولو هم موافقه وکړه او د افغانستان د حکومت د نشه يي توکو د کنټرول له ملي ستراتيژۍ څخه خپل ملاتړ څرګند کړل.

۲۵. د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت د کابل کنفرانس په څنډه کې د سيمه ييزو هيوادونو څخه د استازو د يوه سيمه ييز کنفرانس کوربه و. په دغو موسساتو کې د اقتصادي همکاريو سازمان، د اسلامي کنفرانس سازمان، د شانګهای د همکارۍ سازمان، د سيمه ييزو لپاره د سهيلي آسيا ټولنه همکاري او د اسلامي پراختيا بانک شامل دي، او د کنفرانس هدف د سيمه ييزو همکاريو د ښه کولو لپاره د همغږۍ ميکانيزم په اړه خبرې اترې وشوې. ګډونوالو موافقه وکړه چې د مهمو سيمه ييزو نهادونو د لوړې کچې کور ګروپ (اصلي ډله) جوړ کړي، کوم چې (الف) په سيمه ييزو برخه کې د افغانستان برخې په لوړه کچه همغږي د غړو هيوادونو ترمنځ د همکارۍ چوکاټ به تضمين کړي ؛ (ب) د سياسي ملاتړ چمتو کول غړي هيوادونه ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې تخنيکي خنډونه په چټکۍ سره به حل کيږي. او (ج) د پروګرام ژمنو د پوره کولو لپاره کافي منابع راټول او سپارښتنې چمتو کړي، يوناما په دې غونډه کې ګډون کړی او په لوړه کچه کور ګروپ ته ملاتړ چمتو کړی دی.

۲۶. ولسمشر کرزي په تهران کې د اګست د مياشتې په ۵ نېټه د افغانستان، ايران د اسلامي جمهوريت او تاجکستان ولسمشرانو درې اړخيزه، څلورمه غونډه کې ګډون وکړ. مشرانو موافقه وکړه چې د اوږدې پټلۍ جوړولو لپاره ګډې ستراتيژيکې پروژې پرمخ بوځي او سړکونه، د بريښنا سټيشنونه او د تاجکستان او افغانستان تر منځ د ليږدوني لينونه د ايران اسلامي جمهوريت د افغانستان له لارې د ګډې پولې د جوړولو اعلان وکړ چې کميټه د درې اړخيزو غونډو لپاره لنډمهاله، منځمهاله او اوږدمهاله ستراتيژياني به جوړوي. د څلور اړخيزه همکاري غونډه د اګست د مياشتې په ۱۸ نېټه د روسيې فدراسيون په سوچي ښار کې د ولسمشر ديميتري ميدويديف په بلنه جوړه شوه. ولسمشر کرزی د پاکستان ولسمشر آصف علي زرداري او د تاجکستان ولسمشر امام علي رحمان له ولسمشر ميدويديف سره وکتل چې په سيمه کې اقتصادي پرمختګ او ثبات د لومړيتوبونو د تمرکز او همکارۍ په برخو کې خبرې وکړي.

۲۷. په دې اړوند د راپور ورکولو موده د سیمه ییزو همکاریو نورې اړوندې ناستې هم ترسره شوي دي لکه د جنایي، مخدره توکو او د سرحدونو مدیریت پورې اړوند د افغانستان او د ګاونډیو هېوادونه د لوړ پوړو چارواکو د حضور په ګډون. پدې کې هغه ورکشاپ هم شامل و کوم چې د دوی لخوا په ګډه جوړ شوی و په اروپا کې د امنیت او همکارۍ سازمان او ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو دفتر، د جنايي مسلو په اړه د نړیوالې همکارۍ په اړه (آستانه، د جولای د میاشتې په ۲۰-۲۲) د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د پولیسو د مشرانو لومړۍ غونډه، د اقتصادي همکارۍ سازمان غړي هېوادونه (تهران، د اګست د میاشتې په ۲ او ۳ نېټه) او د درې اړخیز نوښت د لوړ پوړو چارواکو څلورمه غونډه د اګست د میاشتې په ۳ نېټه جوړه شوه د ملګرو ملتونو د نشه یي توکي او جرمونه دفتر د رینبو ستراتیژۍ په چوکاټ کې هم شامل دي. د دې ترڅنګ د افغان او ایراني ځواکونو او افغان او پاکستاني ځواکونو له خوا د اګست د میاشتې په ۲ نېټه د ګډو عملیاتو نوی پړاو ترسره شول او د غیرقانوني مخدره توکو د پام وړ کشف او ضبط شامل دی لکه د ۸۰ کیلوګرام هیروین په شمول، ۱۳۰ کیلو ګرامه تریاک او ۵۵ کیلو ګرامه چرس او تر ۱۵ زیات قاچاقبران نیول شوي دي.

**دریم: لیږد او پیاوړي افغان مشرتوب**

۲۸. د دې راپور په موده کې لویه پیښه د کابل کنفرانس و چې د جولای د میاشتې په ۲۰ نېټه کې د ملګرو ملتونو او د حکومت سره په ګډه مشري کیدل. په دې کنفرانس کې د ۱۶ هېوادونو او ۱۴ نړیوالو سازمانونو لخوا استازي ګډون کړي وو، او یکې د بشپړ مشرتابه او مسؤلیت په غاړه اخیستو لپاره د افغانانو لیوالتیا او د ظرفیت زیاتوالی او د دوی د راتلونکې مالکیت څرګند کړ. د کابل پروسه په محتوا کې دوه ژمنې شتون لري، لومړی: د افغان ولس سره د حکومت لخوا نوې ژمنه، د امنیت، حکومتولۍ او اقتصادي فرصتونو ښه کول، او له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې ژمنه چې د خپل سرچېنې او فعالیتونه د حساب ورکوونکې افغان مشرتابه، او د لیږد د ملاتړ لپاره فعالیتونو سره سمون ورکوي. د کنفرانس اعلامیه دغه ملګرتیا منعکس کړه او په ګوته یې کړه چې د دې ډول متقابلو ژمنو د تحقق لپاره کوټلي ګامونه واخلي.

۲۹. د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ په میاشت کې د لندن په کنفرانس په دوام، د کابل په کنفرانس کې حکومت خپلو اهدافو ته د رسیدو لپاره یوه جامع لار نقشه وړاندې کړه چې د ۲۳ ملي لومړیتوب پروګرامونو څخه جوړ شوی دی ترڅو د امنیت، ټولنیز پرمختګ انکشاف ته وده ورکړي او اقتصادي پراختیا، حکومتداري او د قانون حاکمیت، په شمول د اصلاحاتو په شمول د عامه مالي مدیریت او حساب ورکونې ښه کول، او د فساد کمول دي. د دغو ژمنو په ملاتړ، نړیوالو ګډونوالو خپل لیوالتیا څرګنده کړه تر څو په تدریجي ډول خپلې پراختیایي مرستې د ملي لومړیتوبونو تر شا تنظیم کړي هغه پروګرامونه چې هدف یې په راتلونکو دوو کلونو کې ۸۰ سلنه سمون ترلاسه کول دي. نړیوالې ټولنې هم د مسیر د بدلون لپاره خپل ملاتړ یو ځل بیا تائید کړ او لږ تر لږه د خپل مرستو ۵۰ سلنه یې د دولت د اساسي بودیجې له لارې په همدې برخه کې ورکوي. د پاریس له اصولو سره سم د مرستو د اغیزمنتیا په موخه، تمویل کوونکو موافقه وکړه د افغان تدارکاتو او نړیوالو د ښه کولو لپاره له حکومت سره کارکول د قرارداد کولو طرزالعملونه، او د چمتو شوي مرستې اغیزمنتوب نور هم د دولت له بودیجې بهر وکاروي.

۳۰. حکومت د کابل د پروسه په برخه کې د پام وړ پرمختګ پیل کړی دی. لومړی، د ملي لومړیتوبونو پروګرامونه په پام کې نیولو سره د توضیح پیل او د لنډ مهاله (۳ -۶ میاشتو) او منځ مهاله (۶ -۱۲ میاشتو) اهدافو پېژندلو په اړه تمرکز دی. دوهم، دا د عامه مالي مدیریت د پیاوړتیا لپاره ګامونه پورته کوي او د ۱۴ اړوندو وزارتونو د ظرفیت د ګډې ارزونې له لارې اداره کول کوم چې د ستر پراختیایی لګښتونو مسؤلیت لري. تشخیص شي وړتیا او د وړاندی کولو د تشو پیژندل به د اضافي تخنیکي مرستې چمتو کولو د ملکي تخنیکي مرستو د پروګرام، روزنې او تدارکاتو له لارې د ظرفیت جوړونه له لارې حل شي، دریم، حکومت، د وزارتونو ترمنځ د همکارۍ او د کابینې د پرمختګ نظارت نور هم زیاتول، د کابل پروسې د پرمختګ سره ژمن دی. د کلستر طریقه، کوم چې وزارتونه دننه تنظیموي د دولت د امنیت او پراختیا له مخې موضوعي کلسترونه لومړیتوبونه سره، چې یو وزارت یې د هر کلستر مشري به کوي، د لومړیتوب لرونکو پرمختیایي اجنډا پلي کولو لپاره د کاری چوکاټ په ډول به پاتې شي، خو بیا به اصلاح شي تر څو عام شمولیت لپاره تمرکز زیات کړی. څلورم، حکومت ستر لومړیتوب تر لاس لاندي نویلی تر څو د مرستو د پیاوړتیا او اغېزمنتیا لپاره عملي میکانیزمونه پلې کړی. د "عملي لارښود: د بودیجې څخه بهر د پراختیایي مالي چارو اغېزمنتیا معیار" موخه دا ده چې ډاډ ترلاسه شي چې ټولې تمویل کوونکې پروژې د مشورتي پروسې او تمویل تړون له لارې د حکومت د لومړیتوبونو سره سمون ولري. دا به حکومت ته ځواک ورکړي چې د هغو فعالیتونو څارنه او د هغه تعقیب ته دوام ورکړي چې د دولت د بودیجه یا د باور فنډونو څخه بهر ترسره کیږي او د هغه په اړوند په منظمه تمویل کوونکې مالي بیاکتنه کې راپور ورکول ډاډمن کړي. حکومت به په راتلونکو میاشتو کې شریکان ښکیل کړي ترڅو د ډونرانو د دا ډول فعالیتونو د مشورې او تصدیق لپاره پرانیستې او اغېزمن ترتیبات رامنځته کړي.

۳۱. د کابل پروسې د دوه اړخیز حساب ورکوونکي او اغېزمنې څارنې د اړتیا په تایید سره، حکومت او نړیوالو شریکانو د کنفرانس په اعلامیه کې د ګډې همغږۍ او د څارنې بورډ پر پیاوړتیا موافقه وکړه کوم چې ګډ مشري یې د مالیې وزیر او زما د ځانګړي استازی په غاړه ده. یو شمیر ګډ عملي ګامونه په ګډه ګوته اخیستل شوي دي شریک رئیسان، د بورډ غړو سره په مشوره، د بورډ د ساتلو په شمول غونډې به په هرو څلورو میاشتو کې ترسره کیږي ترڅو پرمختګ وڅیړي، تشې وپېژني او د تطبیق پر وړاندې خنډونه په ګوته کړي. د امنیت، د حکومتدارۍ او پراختیا اجنډا په اړوند انسجام به د څارنې د بورډ یوه مهمه دنده وي. دا ډول غونډې به اغېزمن چمتوالی ته اړتیا ولري، د کوم لپاره چې فعال وي او د امنیت، ټولنیز-اقتصادي په اړه د دریو دایمي کمیټو ښکیلتیا پراختیا او حکومتداري اړینه ده. حکومت او یوناما وړاندیز کړی چې د دایمې کمیټې د کلسترونو سره ډېر نږدې تنظیم کړي، په شمول د کلستر له لارې د اړوندو خپلواکو کمیټو مشري کوي. ټاکل شوې ده چې د هرې موضوع په ساحه کې لړترلږه د یوې دایمي کمیټې غونډې څخه دمخه، د دغه بورډ لومړۍ غونډه د کابل له کنفرانس وروسته د نومبر په میاشت کې به جوړه شي.

**څلورم: د مرستو انسجام**

۳۲. یوناما ژمن دی چې د مرستو همغږي او د لا زیات اغېزمنتوب لپاره د حکومت له نوښتونو څخه او همدارنګه د حکومت لومړیتوبونو سره سم د مرستو سمون ملاتړ وکړي. نو ځکه یوناما به په دې توګه د امنیت په برخه کې د افغانانو په مشرۍ یوه همغږي اجنډا به تسیهل کړي. د حکومت سره ګډې هڅې روانې دي د ګډې همغږۍ او څارنې بورډ پیاوړي کړي چې موخه یې د اړتیا وړ پیاوړي کاری چوکاټ چمتو کړي. یوناما د دې سره خپلې نږدې همکارۍ ته دوام ورکوي چې شریکان د کلسترونو فعالیت ته او د دایمي کمیټو او د همغږۍ نور اړوند میکانیزمونه، او د څارنې پیاوړتیا او د بورډ د پریکړو ارزونه ځواکمن کړي. یوناما او زما ځانګړی استازی د ټولو نړیوالو شریکانو سره له نږدې کار کولو ته دوام ورکړي چې په هغه کې د اروپایي اتحادیې

ځانګړې استازی او د ناټو لوړ پوړی ملکي استازی په ګډون، هڅه کوي تر څو د افغانانو په زيات مشرتوب لېږد ته خوځښت ورکړي.

.۳۳ قضايي سمون د حکومتولۍ د اجنډا يوه مهمه برخه ده، او يوناما د افغانستان له قضايي ارګانونو او تمويلوونکو سره په دې برخه کې دخيل دی چې د قضايي ارګانونو پياوړتيا، عدالت ته لاسرسی، د رسمي او غير رسمي سيستمونو ترمنځ اړيکې، او انتقالي عدالت لپاره شپږ مياشتني قضايي عمل پلان چمتو کړي. همدارنګه ماموريت د نظارت عالي دفتر د څارنې او ارزونې کميته، چې د حکومت د فساد ضد ستراتيژۍ د يوې برخې په توګه نوی رامنځته شوی دی، د غړو د نومونو او ټاکنو لپاره ملاتړ ترسره کوي.

.۳۴ هغه ژمنې چې نړيواله ټولنه په لندن او کابل کې کړې وې چې د اصلي بوديجې له لارې مرستې شی، اړتيا ده چې د افغانستان د بيارغونې صندوق له لارې د تمويل زياتول او د تمويل نور عام ميکانيزمونه، د عملياتي لارښوونو پلي کول د بوديجې څخه پرته پراختيايي تمويل، او د فرعي قرارداد کولو او تدارکاتو هڅو په ګډون لپاره لندمهاله ګامونه واخيستل شي. يوناما د ډونرانو اونيزو همغږي کولو ناستو ته دوام ورکوي او تمويل کوونکي د "عملياتي لارښود: هغه معيار چې د بوديجې څخه بهر پراختيايي ماليه اغيزمن کړي، د خوځښت لپاره هڅوي.

.۳۵ د کابل پروسه يوه ملي اجنډا ده او يوازې هغه مهال بريالۍ کېدای شي چې په ټول هيواد کې په محلي کچه خدمتونه وړاندې کړي. يوناما په سيمه ييزې حکومتولۍ کاري ځواک کې، د خپلواک سيمه ييزې حکومتوالۍ رياست سره د ګډ رئيس په توګه، د موجوده سيمه ييزو پاليسيو او کاري پلانونو د سمون او د شپږو ملي لومړيتوبونو پروګرامونو په ګډون، د واليانو فعاليت فنډ، د ښاروالۍ حکومتولۍ او د ظرفيت لوړولو ملاتړ کوي. د دې په نتيجه کې، ځينې ډونرانو دا ډول لومړيتوب لرونکي پروګرامونه په ګډه تمويل کړل. د يوناما ساحوي دفترونه د افغانستان په لويديځ سېمو کې د محلي او ولايتي چارواکو ترمنځ د همغږۍ د ښه کولو هڅې د ورکشاپونو د تنظيم له لارې او د سيمه ييزو ارګانونو د خپلواکه اداری په ملګرتيا سره، چې د ملګرو ملتونو د انکشافي پروګرام لخوا تمويل کيږي مرسته کوي. همدارنګه ساحوي دفترونه د ټاکل شوي او نومول شوي چارواکو سره د بياکتنې او لومړيتوب ورکولو کې مرسته کوي د ولايتي پرمختيايي پلانونه، او په سېمه کې د شريکانو لپاره د اسانتياو برابرول ترڅو د دوی فعاليتونه د تشخيص شوي اړتياو د ملاتړ لپاره په لېکه برابر شی. په داسې حال کې چې په اوسني جريان ټينګار د وزارتونو د ظرفيت لوړولو باندې ټينګار کوي، او د ستايلو وړ دی، دا اړينه ده چې په دې برخه کې کابل هڅې په ولايتونو او ولسواليو کې د ظرفيت د لوړولو له هڅو سره مل شي. د يوناما ساحوي دفترونه د ملکي خدمتونو د کميسيون تر مشرۍ لاندې د ولايتي ظرفيت جوړونې کاري ډلې ملاتړ کوي ترڅو د دوی وړتيا په اغيزمنه توګه تضمين کړي او د ډيری روزنيزو پروګرامونو کوم چې اوس په ولايت کې پلي کيږي نظارت کړي. د بيلګې په توګه په دې اړه په کاپيسا کې د يوناما لخوا د پروژو د چټک تطبيق په اړه يو ورکشاپ جوړ شو تر څو د ولايتي کاري ډلې له غړو سره مرسته وکړي چې د ولايتي ظرفيت جوړونې اړتيا د ارزونې او د پراختيا په اهميت او په دې اړوند د دوی د مسؤليتونو په ترسره کولو او د دوی د باور رامنځته کولو او خپله ونډې ترسره کولو په اهميت باندې پوه شي.

.۳۶ د کاپل پروسه يوازې هغه مهال به بريالۍ وي چې د افغان ټولنې ټول اړخونه په هغه کې ګډون ولري. يوناما خپلو هڅو ته دوام ورکوي چې د افغان مدنې ټولنې، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون او همدارنګه خصوصي سکتور د کابل کنفرانس د ژمنو په پلې کولو کې برخه واخلي. د انکشافي کلستر د عمل په پلان کې د افغانستان د غير دولتي استازو تعامل او د نظارت او همغږي په ګډ بورد کې د مدنې ټولنې مشارکت عملي ګامونه دي چې په هغه کې برخه وال کولای شي د حکومت سره

مرسته وکړي تر څو د افغان ولس لپاره خپلې ژمنې بشپړ کړي. د کابل د پروسې د عام شموليت ته ترويج کولو په خاطر، يوناما مرسته کړې چې د بورډ د جولای د مياشتې په ۸ نېټه غونډه کې د بشري حقونو د خپلواک کميسيون او همدارنګه د مدنې ټولنې د استازو حضور، د ناظر په ډول، خوندي کړي کوم چې د کابل کنفرانس لپاره تياري نيول او د کابل په کانفرانس کې د افغان مدنې ټولنې حضور ډاډمن کړ. زما د ځانګړی استازی مرستيال، سربېره پر دې چې د افغان ښځو د شبکې د استازو سره ليدنه کړې، د دوی او د حکومت او د مدنې ټولنې تر منځ يو شمېر ناستې تسهيل کړې کوم چې په پايله کې هوکړه وشوه چې د کابل په کنفرانس کې د مدنې ټولنې په استازيتوب دوه تنه ښځې وينا وکړي. د يوناما او ۷ مدنې ټولنې تر منځ دوه اړخيزه ناستې د دې لامل شول چې دوی ومومې چې مدنې ټولنه په کوم ډول سره کولای شي د کنفرانس څخه وروسته د ملې لومړيتوبونو د پروګرام په طرح، پلي کولو او نظارت کولو کې برخه واخلي.

## پنځم: بشری مرسته، بيارغونه او پراختيا

۳۷. د راپور په موده کې بشری مرستو ته لاسرسی د يو ننګونې په ډول پاتې و چې روانه جګړه او ناامنې په دوامدار توګه په ټول هېواد کې د مرستو رسوونکو موسسو حضور او فعاليت يې محدود کړي و. د مرستو رسوونکو پر کارکوونکو باندې بريدونه دوام درلود چې د اندېښنې وړ کچه ښکاره کوي او د مرستو د رسولو خنډ ګرځيدلی دی.

۳۸. د بيړني غبرګون وجهي صندوق کوم چې په کال ۲۰۱۰ د جنوري په مياشت کې رامنځته شوي او د بشري مرستو د همغږي د دفتر له خوا مديريت کيږي، (A/64/872/S/2010/318) وکتل شي، تر دې دمه ټولټال ۴۵۷۲۲۵۰ امريکايي ډالره مرستې وعده تر لاسه کړي چې له هغه څخه ۱۰۰۸۵۹۲ امريکايي ډالره ترلاسه شوي دی او ۲۸۶۳۶۳۸ امريکايي ډالر د سمنګان د ۲۰۱۰ کال د اپريل د مياشتې د ۲۰ نېټې د زلزله ځپلو او نور ځايي بېړنې مرستو ته اختصاص شوي دی.

۳۹. د ۲۰۱۰ کال د اګست د مياشتې په پيل کې وربښت د سترو سيلابونو لامل شوي چې د هغه له امله ۹ ولسوالي ځپل شوي دي. د افغانستان د ناورين د مديريت اداره راپور ورکړی دی چې کابو ۲۰۰۰۰۰ وګړي اغيزمن شوي دي. ځايي چارواکې کوم چې د مرستندويو موسسو له خوا ملاتړ شوی دی، ټولو ۹ ځپل شويو ولسواليو ته بشري مرستې چمتو کړي دي. پداسې حال کې چې د ځپل شويو وګړو زياتره لومړنې اړتياوي تر پوښښ لاندې نيول شوي دي، د بېړنې سرپنا د وسايلو چمتو کول لا هم اړين دی.

۴۰. د سهيل د سېمې د کندهار او هلمند په ولايتونو کې د وروستنې ناامنيو له امله ځايي بېځای کيدنه رامنځته شوي. په داسې حال کې چې د ملګرو ملتونو موسسو، وجهې او پروګرامونه د ځايي چارواکو سره کار کوی، د هلمند ولايت د لښګرګاه په مرکز کې ځايي بېځايه شويو کسانو ته د مرستو رسولو کار ته دوام ورکړی دی.

۴۱. تر دې دمه په ۲۰۱۰ کال کې ټولټال ۹۷۱۴۵ تنه کډوال، د ملګرو ملتونو د کډوالی د عالی کمشنر دفتر په مرسته بېرته راستانه شوي دي چې له دې جملې څخه ۹۱۵۸۳ له پاکستان هيواد څخه، چې د مارچ په مياشت کې د بېرته تګ پروسه له

سره ونيول شو، ۵۵۱۵ ته د ايران د هيواد څخه، د جنوری د مياشتې د ۱ نېټې څخه بيا د اګست د مياشتې تر ۱۵ نېټې پوري بېرته هيواد ته راستانه شوي دي. د افغانستان حکومت او د ملګرو ملتونو د کډوالی دفتر اټکل کوي چې د بيرته راستنېدوکو کچه په ۲۰۱۰ کال کې د ۲۰۰۹ کال په پرتله دوه چنده وي.

۴۲. د خوراک نړيوال پروګرام د تر ټولو زيات زيامنيدونکې وګړو ته د مغذی خوارې د مرستو چمتو کولو ته دوام ورکړی دی. د راپور په موده کې د خوراک نړيوال پروګرام کابو ۸۷۷۹۸۰ ماشومانو ته د لوړ انرژی لرونکې بسکټ، او د مکتب خوارې، د ۱۰۲۰۰ تنه په نری رنځ اخته ناروغانو ته او تر ۲۰۸۰ تنو څخه زيات ميندواره او شيدې ورکوونکې ميندو ته او تر پنځه کلنې څخه ټيټ ماشومانو ته اضافي خوارې ورکړي دي. ټولټال ۱۹۳۶۵ تنه چې زياتره برخه يې ښځې دي، د مهارتونو زده کړی ترلاسه کړي دي.

۴۳. د ټولنې پر بنسټ مديريت، د شديد خوارځواکې پروګرام په ۱۱ ولايتونو کې دوام لري، او د ۲۰۱۰ کال د جنوری د مياشتې راپديخوا ۶۵۳۱ ماشومان برخه اخيستې ده. کابو ۲۰ سلنه نوي ځيږل شوي ماشومان په خپل لومړي کال کې د معافيت معمول واکيسنونه نه بشپړ کوي. د عامې روغتيا وزارت، يونيسف او نړيوال روغتيايي پروګرام، لومړني د ماشوم روغتيا اوونۍ يې د ۲۸ ولسواليو څخه په ۲۵ ولسواليو کې ترسره کړي کوم چې د جولای او اګست په مياشتو کې د ۵۰ سلنې څخه لږ د معافيت واکسينونه ترسره شوي وو. د راپور په دوره کې د ملګرو ملتونو يونيسف پروګرام دري ځله د پوليو معافيت د ورځې په ترسره کولو کې د شمال شرقي، ختيز او سهيل ختيز حوزو کې اقدام کړی دی. دغه کمپاينونه د سخت امنيتي وضعيت با وجود، ۴۴۳۷۷۹۷ تنه ماشومان په نښه کړي دي. د پوليو د ويروس انتقال د انديښنې وړ دی کوم چې د افغانستان او پاکستان تر منځ د خلکو د دوامداره تګ او راتګ له امله دغه ويروس انتقال کوي.

۴۴. د جون په مياشت د کابل ، مزارشريف، ننګرهار، کندهار او هرات ولايتونو کې د مور او ماشوم د روغتيا پنځه روزنيز مرکزونه پرانيستل شوي دي. په ورته حال کې د کندهار، بدخشان، کنړ او لغمان، باميان او هرات ولايتونو کې د مور او ماشوم مرکزونه جوړ شوي دي.

۴۵. د پوهنې وزارت په خپل نوي ملي پوهنې ستراتيژيک پلان کې، ژمن شوي دی چې تر ۲۰۲۰ کال پوري د سواد زده کړی کچه تر ۷۵ سلنه پوری بشپړ او تر لاسه کړی. د ملګرو ملتونو د تعليمی، ساينسی او دوديز سازمان (يونسکو) د دغه هدف لپاره د ۹ مياشتو د سواد زده کړي د پروګرام سره ملاتړ کوي. د ۲۰۱۰ کال د مې او جولای په مياشتو کې په ۴۷ ولسواليو کې کابو ۹۰۰۰۰ کليوالی ځوانان او مشران د سواد زده کړي پروګرام بشپړ کړی دی.

۴۶. د مخدره توکو سره د مبارزی وزارت، د ملګرو ملتو د مخدره توکو او جرم دفتر او يوناما په ګډه د ۲۰۰۹ کال سروې، په افغانستان کې د مخدره توکو کارول، د جون د مياشتې په ۲۱ نېټه پيل کړی دی. راپور اټکل کوي چې کابو ۹۴۰۰۰۰ افغان وګړي، د ۱۵ کلونو څخه تر ۶۴ کلن پوری، يا عادي معتادين دي او يا د مخدره توکو هغه کارونکې دي کوم چې ټولنې ته ستونزمن دي. د ۲۰۰۵ کال دسروې را پديخوا د ترياکو د کارولو کچه ۵۳ سلنه او د هيروين د کارولو کچه ۱۴۰ سلنه زيات شوی دی. همدارنګه سروی راپور ورکوی چې يوازی د معتادينو ۱۱ سلنه د علاج او يا مداخله ترلاسه کولای شي ځکه چې اوسنی او

موجود ظرفیت یوازې کولای شي په کال کې ۱۰۵۰۰ تنه معتادین درملنه وکړي. کابل ۷۸۰۰۰۰ معتادین د درملنې په انتظار کې دي. ولسمشر کرزي د مخدره توکو او ناقانونه قاچاق په وړاندې د مبارزې په نړیوال ورځ نمانځنه کې، چې د جون د میاشتې په ۲۶ ونماځل شو، پیاوړي پیغام ورکړ چې د مخدره توکو په وړاندې مبارزه کې د هڅو ملاتړ کوي. وزارت او د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرم دفتر تایید کړې چې ۲۳۱۶ هکتاره ځمکه په ۱۱ ولایتونو، بدخشان، فراه، هلمند، هرات، کابل، کاپیسا، لغمان، ننګرهار، نیمروز، تخار او اروزګان په ولایتونو کې، چېرې چې د کوکنارو کښت له منځه وړل شوی دی، خو د بې ثباتۍ په دوامداره توګه د دې لامل شوی دی چې د کوکنارو د کښت د له منځه وړلو کمپاینونه په سهیل او سهیل لویدیز کې ترسره نشي.

۴۷. د تېرو پنځو کلونو په پرتله د جولای په میاشت کې د تریاکو د بیې تر ټولو زیاته کچه ثبت شوې، ځکه چې د نا امنۍ، پوځي عملیاتو او د کوکنارو د مرض په اړوند ګنګوسې خپرې شوې وو. دغه رجحان په تیرو نږدې کلونو کې د بیو په کمیدو کې منفي ونډه لوبلی او داسې تمه کیږي چې په ۲۰۱۱ کال کې نوره زیاته ځمکه کې کوکنار وکرل شي او په تدریجي ډول سره د کوکنارو څخه خلاص یو او یا زیات ولایتونه له لاسه ووځي. د کمولو د تدابیرو په خاطر، ملي مداخلې ته او همدارنګه نړیوالو مرستو ته اړتیا ده تر څو د کرلو څخه مخکې کمپاینونو کې او همدارنګه د معیشت د بدیل لپاره چمتو شي.

۴۸. د عینک د مسو په کان کې د چاودیدونکو توکو او همدارنګه په ناچاودو توکو ککړه ځمکو کې د پاکولو کار پرمختګ کړی دی چې تمه کیږي چې ډیر زیات کاري فرصتونه رامنځته او افغان اقتصاد پیاوړی کړي. هغه لومړنی سېمه کوم چې د پاکولو لپاره سپارل شوي وو کابو ۸۰ سلنه پاکه شوې او په راتلونکې څو میاشتو کې د کانونو وزارت ته وسپارل شي. د افغانستان او تاجکستان د هیوادونو تر منځ پر دواړه پولو باندې هوکړه لیک، ماین پاکوونکو ته دا امکان په لاس ورکړي چې د بدخشان په لیریو پرتو سېمو کې ماین پاکې ترسره شي او د هغه ځای بیوزلو ټولنو ته د پراختیا لامل شي.

**شپږم: بشري حقونه**

۴۹. د اګست د میاشتې په ۱۰ نېټه یوناما په افغانستان کې د وسله واله جګړې پر مهال د ملکي کسانو د خوندیتوب شپږ میاشتنې راپور خپور کړ چې په هغه کې د روانې جګړې له امله د انسانانو د ژوند له لاسه ورکول زیات شوی دی. یوناما ۳۲۶۸ د جګړې اړوند پېښو کې د ملکي وګړو تلفات ثبت کړي، د افغان وګړو د مرګ او ژوبلې په ګډون، چې د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ د پیل څخه د جون د میاشتې تر ۳۰ پورې تر سره شوي دي او د ۲۰۰۹ کال د ورته ۶ میاشتو موده کې ۳۱ زیاتوالي رابرسیره کوي. د حکومت مخالف ډلې، د دغو تلفاتو ۲۴۷۷ پېښې، د ۲۰۰۹ کال د ورته مودې په پرتله کابو ۵۳ سلنه، زیاتوالي ښيي. د ملکي تلفاتو کچه کوم چې د حکومت پلو ځواکونو ته نسبت ورکړ شوي دي ۳۸۶ پېښو ته رسیږي چې د تېر کال د ورته موده په پرتله ۳۰ سلنه کمښت ښيي او د مرګ ژوبلو دغه کمښت د هوایي علمیاتو د کمښت له امله دی.

۵۰. د حکومت ضد عناصر د زیات شمېر او زیات پېچبلي په لاس جوړ چادودیدونکې توکې په ټول هیواد کې کارولي چې د ۲۰۱۰ کال د لومړې شپږو میاشتو کې ټولټال ملکي تلفاتو ۲۹ سلنه جوړه وي. له دې برسیره، د ملکي وګړو شمېره چې د حکومت ضد عناصرو له خوا په نښه شوي او یا اعدام شوي دي، په عام محضر د ماشومانو د اعدام په ګډون، تر ۹۵ سلنه څخه زیات شوي دي. د حکومت پلوه ځواکونو په قضیه کې، د هوایي بریدونو تاکتیک تر ټولو زیان رسونکې پاتې شوی دی او د ملکي وګړو

د مرګ ژوبلې ۳۱ سلنه جوړوي کوم چې دوي ته نسبت ورکړ شوی دی. په داسې حال کې چې د حکومت پلوه ځواکونو د هوايي بريدونو له امله د رامنځته شوي ملکي تلفات ۶۴ سلنه د ۲۰۰۹ کال د ورته مودې په پرتله کمه شوی ده، د دې ښکارندوی دی چې ايساف خپل تاکتيکي دايريکتيف او نور اقدامات د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د کمولو په خاطر پلي کړی دی.

۵۱. همدارنګه د راپور موندنې ښکاره کوي چې افغان ښځې او ماشومان په زياته پيمانه د جګړې بار زغمي. د ۲۰۰۹ کال را پديخوا د ښځو تلفات ۶ سلنه زيات شوی پداسې حال کې چې د ماشومانو مرګ ژوبله ۵۵ سلنې ته اوچت شوی دی. د حکومت ضد عناصرو له خوا په لاس جوړ چاوديدونکي توکي او ځانمرګي بريدونه تر ټولو زيات ښځې او ماشومانو ته تلفات اړولي، د ۷۴ ماشومانو په ګډون، چې دغه شمېره د ۲۰۰۹ کال د ورته مودې په پرتله ۱۵۵ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.

۵۲. يوناما او د ملګرو ملتونو د ښځو پروګرام د کابل په کنفرانس کې د مدني ټولنې په استازيتوب د ښځو ګډون او همدارنګه د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کميسيون ګډون په فعاله توګه ملاتړ کړی دی. يوناما په يوه دوه ورځني ناسته کې چې د جولای د مياشتې په ۱۷ او ۱۸ نېټو کې ترسره شوي، چې د ټول هيواد څخه کابو ۲۰۰ تنه ښځې سره را ټول کړي و تر څو د کنفرانس لپاره د ښځو د مسايلو لپاره لومړيتوبونه مشخص کړي. د کنفرانس پر مهال د مدني ټولنې او د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کميسيون استازي ټينګار وکړ چې په روان سولې او مصالحه خبرو اترو کې د ښځو بشري حقونه بايد معامله نشي، او د ښځو د حقونو د ملاتړ لپاره د قانون تنفيذ غوښتنه وکړل. همداراز د کنفرانس اعلاميه د بشری حقونو او د مدني مسؤليتونو په اړوند د بشري حقونو لپاره په ملي لومړيتوبونو د پروګرام په پلي کولو کې د افغان مدني ټولنې او د بشري حقونو د خپلواک کميسيون شاملولو غوښتنه وکړ. د هغه وخت څخه د اړوند وزارتونو او مدني ټولنو سره ليدنې ترسره کړي تر څو د پروګرام د پلي کولو لپاره د فعاليتونو شپږ مياشتنې پلان طرح کړي کوم چې د عدليې په وزارت کې د بشري حقونو د ځانګې پياوړي کول هم شامل وي. د بشري حقونو خپلواک کميسيون د اګست د مياشتې په ۲۱ نېټه د فعاليتونو شپږ مياشتنې پلان د ماليې وزارت او د ولسمشر دفتر ته د تاييد لپاره وړاندی کړ.

۵۳. يوناما د هغو فعاليتونو څارنه کوي کوم چې په تېر وخت کې د توقيف څخه د خلاصون کميټه د افغانستان د حکومت له خوا د سولې د جرګې څخه وروسته رامنځته شوي و، تر څو د هغو مظنون بلواګرو قضيې و څېړي کوم چې پرته له کوم مدرک او ثبوت په توقيف کې دي. يوناما ټينګار کړی دی چې، د افغانستان د قوانين او طرزالعملونو پر بنسټ، هر ډول خوشې کول بايد حقوقي بنسټ ولري. د دغې کمېټې وياند د اګست په مياشت کې يوناما ته خبر ورکړ چې ۳۰۴ تنه له توقيف څخه خوشې شوي دي. يوناما اندېښنه لري چې د توقيف شويو کسانو په خوشې کيدلو پروسه کې بې نظمې شوي او د بيا کتنې په پروسه کې د روڼتيا کمښت مشاهده شوی دی.

۵۴. د ۲۰۱۰ کال په لومړنې شپږو مياشتو کې تر ۱۰۳۰ څخه زيات د ماشومانو د حقونو څخه تيری ترسره شوي کوم چې په هيواد کې د ماشومانو او وسله واله جګړه، د کاري ځواک له خوا مستند شوي دي. په داسې حال کې چې په نا امنه سيمو کې د لاسرسی نه درلودلو له امله د راپور زياتره برخه نه دی تاييد شوی، يوناما او يونيسف د اګست په مياشت کې د افغان او نړيوال ساحوي ناظرينو لپاره د ماشومانو او د حقونو د تيري په اړه يو روزنيز نوښت کړي وو. د شپږو حوزو کاری ډله چې د ماشومانو د حقونو د تيری او راپور ورکولو نظارت وکړي د جون په مياشت په مزارشريف کې رامنځته شو.

۵۵.	د جولای د میاشتې په ۱۸ نېټه د بهرنیو چارو وزارت د ماشومان او وسله واله جګړې په اړوند بین الوزارتي د رهبرۍ کمیټه رامنځته کړ. د دغې کمېټې په دندو او صلاحیتونو کې راغلي چې د ماشومانو د حقونو څخه د جدي سرغړونو د نظارت او راپور ورکولو، پالیسي او حقوق سمون، د تیریو څخه مخنیوي کول، د ساري په ډول د جنسي ناوړه ګټه اخیستلو څخه د مخنیوي ملاتړ وشي. حکومت داسي نیت ښکاره کړی دی چې د عمل یو پلان جوړ کړي چې په هغه کې د ۱۸ کلونو څخه کم عمره ماشوما د نو ګمارلو څخه مخ نیوي وشي، د لا زیات د تایید طرزالعملونو د پیاوړی کولو د اړتیا په ګډون، د افغان ملي پولیسو په لیکو کې د تر سن لاندي ګمارنې، وروسته زما په تېر نږدی وخت راپور کې، د ماشومانو وضعیت او وسله واله شخړ تر عنوان لاندي (A/64/742-S/2010/181) توضیح شوی دی. یوناما او یونیسف به تخنیکی مشوری او د ظرفیت د رامنځته کول چمتو کړي تر څو د حکومت د نوښتونو ملاتړ وکړي.

**اووم. د ماموریت ملاتړ/عملیاتي مسلې**

۵۶.	یوناما یو خوندي او مصؤن ځای موندلی، هلته چې ماموریت کولای شي د ملاتړ دفتر او ناورین احیا او د کار د دوام مرکز وي، او چېرته چې ماموریت کولای شوی په بشپړ ډول سره اداري دندي، په ځانګړی ډول، بشری سرچینې، مالی او تدارکات او د ماموریت د دیټا زیرمه او دوام چمتو کړي. داسی ګامونه ترسره شوي چې د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر د میاشتې تر پایه پوري په کویټ کې د یوناما د ملاتړ دفتر پرانیستل شي. زه د کویټ د حکومت څخه منندوي یم چې دوي په خلاص زړه سره په دې اړوند ملاتړ کړی دی. دغه دفتر د کابل د دفتر څخه د ۳۹ تنو انتقال، افغانستان ته د یوناما د لوړې کچې کارکوونکو ته د ځای پر ځای کولو امکان برابروي کوم چې اوس مهال د ګمارلو په ورستنۍ پړاو کې دی.

۵۷.	یوناما خپل موجوده کمپونډونه بیا رغوي تر څو د امنیتي او عملیاتي لږ تر لږه معیارونو سره سمون ولري. د ۲۰۱۰ کال د اګست د میاشتې په ۶ نېټه د افغانستان په جلال آباد کې نوی دفتر پرانیستل شو کوم چې د حکومت لخوا چمتو شوی او په هغه کې د اوسیدو او کارکولو ګډ امن امکانات شتون لري. ورته نوښتونه روان دي چې د مزارشریف، کندهار او کندز حوزو کې هم دفترونه او د اوسیدو ځای نړیوال کار کوونکو او نړیوال وسله واله محافظینو لپاره تر لاسه شي. یوناما او د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو دفتر یوه ګډه پروژه یې ترلاس لاندی نیولې چې د هرات د یوناما حوزوي دفتر امنیت اړوند جوړښتونه پیاوړي کړي چې د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو له خوا یې مدیریت چاري پر مخ بیول کیږي. د یوناما ولایتي دفترونه د لومړیتوب پر بنسټ وده کوي چې د اوسنۍ تعمیر د امنیتي وضعیت او چاپېریال پوری اړه لری. د ارتباطات او د اړیکو چاری هم ترلاس لاندی دي چې لا پسې ښه شي.

۵۸.	د کابل ښار په زړه کې د کار او اوسیدو لپاره د لا زیات امن تعمیر لپاره پلانونه روان دې تر څو د هالند د هیواد څخه د دوي تعمیر د تخلیې څخه وروسته واخیستل شي. تمه کیږي چې دغه کمپونډ د ۲۰۱۰ کال د نومبر په میاشت کې د یوناما ۶۰ تنه نړیوال کار کوونکو لپاره د کار او اوسیدو امکان او ورته شمېره داخلي کارکوونکې ته د کار ځای چتمو کړي. زه د هالند د هېواد څخه د دوی د دې مرستې له امله مننه کوم.

۵۹. څرنګه چې زما په تېر راپور کې رابرسیره شوی دی، د ماموریت په سېمه کې د غیر مصؤن اوسیدو ځای د کمښت له امله د یوناما د نړیوالو کارکوونکو د کمبود پستونه ۳۹ سلنه دی. په ورته حال کې دغه سلنه به نوره هم زیاته شي ځکه چې زیات نړیوال کارکوونکي د کویټ دفتر ته انتقال کیږي او همدارنګه په کابل کې د مخ پر زیاتیدونکي او نوي امن ځایونو د شتون له امله په ټول ماموریت، سیمه ییز او ولایتی دفترونو کې د نړیوال کارکوونکو حضور زیات شي.

**اتم: سپاربښتنې**

۶۰. د کابل کنفرانس د دی مظهر وو چې د افغانستان حکومت د خپل راتلونکي لپاره زیات کنترول تر لاسه کړي. کوم ستر کارونه چې د حکومت له خوا ترلاس لاندي نیول شوي دي، اغیزمن او هڅونکي دي، د دې په پام کې نیولو سره چې د رسیدګې موضوعات خورا زیات دی، د وزارتونو ترمنځ د همکاری کچه لوړه ده، د مدنې ټولنو او د بشری حقونو د استازو او همدارنګه د نړیوال دوه اړخیز او څو اړخیز شریکانو سره د تعامل کچه ژوره ده. د دغه تاریخي لاسته راوړنو له امله باید د افغانستان حکومت ته ، د امنیتي ځواکونو په ګډون، مبارکۍ ورکړ شي ځکه چې ستر لوژستیکی او سازماني مشارکت ته اړتیا درلود او دوی په خورا مسلکې توب سره ترسره کړی ده. زه همداراز غواړم د نړیوالې ټولنې د همکارانو څخه هم مننه وکړم ځکه دوی حکومت ته د بریا ډک پایلې لپاره ستر او عملي مرستی ترسره کړي دي.

۶۱. د کنفرانس په پایله کې یو ګډ ژمنتیا او توضیح شوي معیارونه رامنځته شول چې د مخ په وړاندي لاره ښکارندوی دی: د کابل پروسه. د کابل په کنفرانس کې کوم کلیدي ژمنې چې د افغانستان د حکومت او نړیوالې ټولنې له خواه وشول په لاندي ډول دي: د نوي ملي لومړیتوبونو د پروګرام لپاره د یو کاری چوکاټ، موده او معیارونو طرح کول، د افغانانو له خوا د امنیت په اړوند د مشرتوب لپاره پرمختګ، د حکومتداري سمون او د اداری فساد سره مبارزه. د دغو ژمنو پر وخت پلي کول، د کابل پروسه کې د مثبت خوځښت ډاډمن کولو لپاره اړین دی او زه نړیواله ټولنه هڅوم چې د پروسې د ملاتړ لپاره او د افغانانو د لومړیتوبونو سره سم، د اړتیا وړ مرستې چمتو کړي.

۶۲. کنفرانس یوازی د کابل د پروسې پیلامه ده. د ترسره شوي ژمنو د پلی کولو ننګونکي دنده په خپل ځای دی. د بریا د تر لاسه کولو لپاره باید زموږ فعالیتونه د لومړیتوبونو پر ډګرونو باندي په سمه توګه متمرکز، په سم ترتیب او همغږي سره مل وي. په داسې حال کې چې ملي لومړیتوبونه پر اوږد مهاله وده باندي متمرکز دی موږ ته لازمه ده چې ډاډمن کړو چې دا هڅې د افغان وګړو لپاره د بېړنې خدمتونو وړاندي کولو سره هم یو ځای وي. د راتلونکي پرمختګ لپاره د باور په خاطر، سوله باید د افغانانو لپاره ګټه وره وي. نړیواله ټولنه هم باید د مرستو د رسولو ملاتړ وکړي چې د ملي او ځایي په کچه همزمان وي چې په ورته حال کې موږ د باثباته پراختیا او حکومتداري لپاره د اوږد مهاله ظرفیتونو او کاری چوکاټ د طرحی په تمه یو. د افغانانو تر مشرتابه لاندي د امنیتي مسؤلیت د لېږد د پروسې خوځښت او پر هغه باندی تمرکز ساتل پداسې حال کې چې امنیتي ننګونې، راتلونکې ټولټاکنې او د سیالي ډک کورنې، سیمه ییز او نړیوال سیاسي فشارونه مخ پر زیاتیدو دي، د حکومت څخه دوامدار پاملرنه او همدارنګه د نړیوالو شریکانو د یو موټېکېدو او دوامدار ملاتړ ته اړتیا لري.

۶۳. د همغږي او نظارت ګډ بورډ هغه اصلي جوړښت دی چې د کابل او لندن په دواړه کنفرانسونو کې د ژمنو د پلي کولو څارنه وکړی، او د هغو د پلي کولو څخه هم ساتنه کوي. زما ځانګړي استازی د دغه بورډ د ګډ رئیس په صفت، د نړیوال ټولنې سره صلاح مشوري کوي چې په څه ډول دغه میکانیزم او د هغه د همغږي فرعي جوړښتونه، د حکومت د کلسترونو او د بورډ د دایمي کمیټو په ګډون، پیاوړي شي.

۶۴. ملګري ملتونه ژمن دی چې د مرستو د اغېزمنتوب لپاره مرسته وکړي او دغه کار د یو موټي سیستم په زیاتولو او د یو واحد ملګري ملتونو په ډول د خدمتونو د وړاندي کولو له لاري ترسره کوي. زما ځانګړي استازی په هېواد کې د ملګرو ملتونو د ډلي د هڅو رهبري کوي چې د ۲۰۱۰ کال د دسمبر تر میاشت پوري یو موټي ستراتیژیک کاری چوکاټ رامنځته کړی چې په هغه کې د ملګرو ملتونو تعامل په خاطر د لومړیتوب ډګرونه به تشریح شي او د افغانستان د لېږد په ډګر کې د ټولیز اغېزې د ځواکمن کولو لپاره د عملي تدابیر او د افغان ملي او سیمه ییز چارواکو ملاتړ وکړي.

۶۵. د لاسته راوړنو زیاتره برخه ماتیدونکی ده او د ناوړه امنیتی وضعیت تر سیوری لاندي دی. په دغه اړوند د حکومت هڅې چې د سولې او مصالحې پروګرام پلي کړي، په ځانګړي توګه مهمه ده. حکومت د اعتماد د رامنځته کولو په خاطر یو شمېر نوښتونه رامنځته کړی چې په دغه راپور کې توضیح شوي دي. د پروسې د مشرتابه لپاره ننګونې به دا وی چې دوی، پداسې حال کې چې د سولې په جرګه کې ملي اجماع تر لاسه شو، دوامداره خوځښت ډاډمن کړی.

۶۶. همدارنګه، د سپتمبر د میاشتې په ۱۸ نېټه د ملي شورا باوري ټاکنې د افغانستان د دیموکراتیک پرمختګ لپاره به مهم وي و د حکومت او افغان وګړو تر منځ حساب ورکوونه پیاوړي کړي. پداسې حال کې چې د ټاکنو تخنیکي تیاری سم پرمخ روان دی، خو په راتلونکي میاشتو کې د زیاتو ستونزو سره به مخ شي. لومړي، امنیتي ګواښونه په زیات شمېر سیمو د رای ورکونکو برخه اخیستل تر اغیزی لاندي نیسي. دوهم، پداسی حال کې چې هڅه کیږی چې د ۲۰۰۹ کال څخه زیات درس او تجربه تر لاسه شي، تر څو سیستماتیک درغلی لمنځه ولاړ شي، خو د درغلیو سل په سله کې لمنځه وړل ناشونی ده. دریم، د سیالي کوونکو زیات شمېر کاندیدان دا امکان زیاتوی چې د ټاکنیز شکایتونه به هم زیات شي پرته له دې چې د شکایت لپاره بنسټ شتون ولري او که و نلري. په دغه ډګر کې د ولایتونو په ګډون، د یو اغېزمن او کارنده د ټاکنو د شکایاتو کمیسیون ډېر مهم دی. او په پای کې، د درغلیو د فرصتونو د مخنیوي اړتیا د ټاکنو خپلواک کمیسیون دې ته اړ کړي چې په زیات نا امنو سېمو کې د رایوورکونکو مرکزونه وتړي او دغه کار د دې لامل شوی چې ځینې ډلې شکایت وکړي چې د رایو ورکولو د حق څخه بې برخه شوي دي. که څه د ټولټاکنو خپلواک کمېسیون هڅه کړی چې د دغو مرکزونو ته نږدې سیمو کې د رایو مرکزونو او یا د رایو ورکولو سټېشنونه اضافه کړي تر څو دغو اندېښنو ته رسیدګي شوي وي. زه د افغانستان حکومت او د هغه امنیتي ځواکونه هڅه وم چې خپلو کوښښونو ته دوام ورکړي او دواړه کاندیدان او د ټاکنو پروسه خوندي کړي تر څو یو عام شموله، روڼ او د باور وړ ټاکنې ډاډمن شي. زه همدارنګه ټول کاندیدان هڅوم چې خپل کمپاینونه د هغو طرزالعملونو او پروسیجرونو مطابق ترسره کړي کوم چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون له خوا صادر شوي دي. زه د کمیسیون د هغو ترسره شویو پریکړو ستاینه کوم چې پر ټاکنو د باور زیاتوالي ځواکمن کوی، او اکثراً تر ستر فشار لاندي دی، او همدارنګه د کمیسیون سره د ملاتړ په خاطر د نړیوالې ټولنې څخه هم مننه کوم.

۶۷.	د امنیت شورا د (۲۰۱۰) کال د ۱۹۱۷ پریکړه لېک او لندن او کابل په کنفرانسونو کې د هوکړي پر بنسټ، د ټولټاکنو د کمیسیون اوږد مهاله سمون د یو مهم لومړیتوب په ډول پاتې دی. اړتیا ده چې د سمون د پروسی په اړوند ژر تر ژره بحثونه پیل شي. د سپتمبر د ۱۸ نېټې څخه د ټولټاکنو وروسته، حکومت، د ټاکنو نهادونه او اړوند افغان او نړیوال همکاران د ټاکنو د سمون پر اجنډا باندي به کار وکړي چې د یوناما د فعالیتونو یوه مهمه برخه وي. د ټاکنو د حقوقی کاری چوکاټ او د ټاکنو د تقویم، د ټولټاکنو د شکایاتو کمیسیون اوسنې موقتې وضعیت، د رایو ورکوونکو ملی واحد د ثبت دفتر، د ولسوالی، ښاروالی او د کلې شورا د ټاکنو په خاطر د ولسوالیو د پولو په نښه کول، د ملي ناظرینو او سیاسی ډلو ملاتړ او د ټولټاکو د کمیسیون د موسساتې ظرفیت جوړول هغه مسلې دې کوم چې د ټولټاکنو د اوږد مهاله سمون کې تر بحث لاندي ونیول شي.

۶۸.	زه د افغانستان او ګاونډي هېوادونو تر منځ په یو شمېر ډګرونو کې د سیمه ییز همکاری دوامداره ډیالوګ له امله خوشحاله یم. هغه سیمه ییز کنفرانس او کلیدي ډله چې د کابل کنفرانس څخه مخکې دایر شوي وو، دواړه د لندن کنفرانس ژمنی او په روان سېمه ییز همکاری هڅو کې د همغږی د تشې ته رسیدګې کوي. زه حکومت هڅوم چې د سیمه ییز همکارانو سره خپل همغږي دوامداره او پیاوړي کړي. یوناما، زما د ځانګړي استازی د ښه نیت دفترو له لاري د دا ډول نوښتونو ملاتړ کوي.

۶۹.	زه د ملکې تلفاتو په شمېر کې د زیاتوالی له امله اندیښمن یم. په ځانګړي ډول، په خپلو کورونو او ټولنو کې، د ښځو او ماشومانو زیات شمېر وژل او ژوبل کیدل په اړوند. د جګړي اغیزی پر انسانانو باندي دا حقیقت روښانه کوي چې افغان ملکی وګړی په اغیزمن ډول خوندی شی تر څو د انسانانو پر لومړنې حقونو باندی کوم چې تر بل هر وخت ډیر زیات بېړنی شوی دی، د هغه اغیزی کم شی. ټول اړخونه باید لا زیات هڅه وکړی چې د ملکې وګړو ژوند خوندي شی او د نړیوال قانون تر لاندي خپل حقوقې ژمنې هم رعایت کړی.

۷۰.	په پای کې، د دغه فرصت څخه په ګټه اخیستلو سره، زه غواړم د خپل ځانګړی استازی ستفن دیمستورا، د هغه د ژمنتیا او وقف لپاره مننه وکړم او همدارنګه د یوناما ټول کارکوونکو او د ملګرو ملتونو ټولو موسسو ته، د افغانستان د ملاتړ په خاطر د دوي جدی کار له امله، خپل د قدردانې مراتب وړاندی کړم.